بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۴۱ ګڼه سلواغه ۱۴۰۳ : شماره (۴۱) دلو ۱۴۰۳ :صفحه اول:لومړی مخ



# اونیزه راستنیدنه هفته نامه عودت

که نظام د ملت زورند خپل کوي ملت خپله له نظام څخه ملاتر کوی.
شهید الحاج خلیل الرحمن حقانی

## محترم مولوي عبدالکبیر د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو د نوی وزیر په توګه رسما دنده پیل کړه

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم پر بنسټ د ریاست الوزراء مخکني سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر د یوې ناستې په ترځ کې د مهاجرینو چارو وزارت کارکوونکو ته د وزیر په توګه معرفي او دنده یې پیل کړه.

په دې ناسته کې د امربالمعروف، نهې عن المنکر او شکایتونو اوریدلو وزیر شیخ محمد خالد حنفي، د چارو اداري لوی رئیس شیخ نورالحق انور، د مهاجرینو چارو وزارت مرستیالانو او رئیسانو ګډون کړی و.

د چارو د اداري لوی رئیس ولس او اسلامي نظام ته خدمت د اسلامي امارت د مشرانو او مسوولینو موخه وبلله او زیاته یې کړه، چې محترم مولوي عبدالکبیر د اسلامي امارت لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې او قرباني ورکړې دي او د نوموړي تجربه او وړتیا به د مهاجرینو او بېرته راستنیدونکو چارو وزارت پر کړنو مثبت اغیز وکړي.

همدارنګه شیخ محمد خالد حنفي د اسلامي امارت په بېلابېلو برخو کې د محترم مولوي عبدالکبیر د بریالیو دندو ستاینه وکړه او څرګنده یې کړه، چې اطاعت د تقوا بېلګه او د اسلامي امارت یو اصل دی.

محترم مولوي عبدالکبیر د شهید الحاج خلیل الرحمان حقاني روح ته دعا وکړه، او د کډوالو په برخه کې یې د نوموړي ښه مدیریت او هلې ځلې وستایلې.

محترم مولوي عبدالکبیر د امیرالمؤمنین حفظه الله له لوري د مهاجرینو چارو د وزیر په توګه د نوموړي په ټاکل کېدو خوښي څرګنده کړه او وې ویل هڅه کوي څو د نوې دندې له لارې اسلامي نظام او افغانانو ته د لاغوره خدمت جوګه شي.

نوموړي د مهاجرینو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت کارکوونکو ته د تېر په څېر په کارونو کې د اخلاص سپارښتنې وکړې او یادونه یې وکړه، چې په ګډ به د یوه پیاوړي ټیم په توګه د وزارت چارې او مسوولیت په ښه توګه پر مخ یوسي.

په پای کې محترم مولوي عبدالکبیر یادونه وکړه، چې د کډوالو او بېرته راستنېدونکو وزارت له چارو خوښ دي او هڅې به وکړي چې افغان کډوالو ته لاښه خدمات وړاندې کړي.

---

## نشست هماهنگی در وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان برگزار شد



به ریاست مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین وعودت کنندگان نشستی هما هنگی با حضور معینان، روسا و آمرین مستقل این وزارت برگزار شد.

در این نشست، فعالیت ها، پلان ها و مشکلات وزارت امور مهاجرین مورد بحث و بررسی قرار گرفت و مسوولین هر بخش معلومات را با وزیر امور مهاجرین شریک ساختند.

وزیر امور مهاجرین ازحل مشکلات اطمینان داده و برای اشتراک کنندگان به اخلاص، صداقت امانت داری و تسریع در روند کاری سفارش های لازم را ارایه کرد.

محترم مولوی عبدالکبیر گفت: ما برای هیچ وظیفه خاصی با عالیقدرامیرالمومنین بیعت نکرده ایم، بلکه بر اساس اسلام و شریعت با او بیعت کرده ایم و در زیر سایه اسلام موظف به اطاعت هستیم.

وزیر امور مهاجرین افزود: همه مسئولین و کارمندان وزارت امور مهاجرین به کار خود مانند گذشته ادامه دهند و نگرانی از تغیر و تبدیلی نداشته باشند.

در این نشست معینان و روسای مرکزی وزارت تقرر محترم مولوی عبدالکبیر را به حیث وزیر امور مهاجرین بجا و شایسته دانسته و به وی از اطاعت، همکاری و تعهد اطمینان دادند.

## د کډوالو په برخه کې د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ له مرستیال سره د مهاجرینو چارو د وزیر لیدنه



د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ مرستیال ښاغلي رؤف مازو او ورسره مل پلاوي د مهاجرینو چارو له سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر سره وکتل.

په دې ناسته کې د افغان کډوالو پر وضیعت، د کډوالۍ پر دایمي حللارو، د مهاجرینو ښارګوټو ته د اسانتیاو برابرول، د افغان کډوالو د شته ستونزو په موخه له پاکستان او ایران سره د درې او څلور اړخیزو ناستو او ګډو همکاریو په اړه خبرې وشوې.

ښاغلي مازو د مهاجرینو چارو وزیر ته د شهید خلیل الرحمان حقاني د شهادت تسلیت وړاندې کړ او نوموړي ته یې په نوې دنده کې د بریا هیله وکړه.

نوموړي وویل، که څه هم نړیوال مالي بحران د دوی په کارونو منفي اغېز کړی، خو هڅې روانې دي څو د مهاجرینو ستونزو ته د رسیدنې لپاره اړتیا وړ بودیجه راجلب کړي.

ښاغلي مازو له پاکستان او ایران څخه د افغان مهاجرینو جبري ایستل د نړیوالو اصولو خلاف او د اندېښنې وړ موضوع یاده کړه او د خبرو په پای کې یې یادونه وکړه، چې د کډوالو په برخه کې د ملګرو ملتونو اداري کډوالو ته د ښارګوټو په جوړولو کې مرستو ته تیارې دي.

د مهاجرینو چارو وزیر د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ مرستیال ته ښه راغلاست وویل او د افغان کډوالو د ستونزو د حل په برخه کې یې د نړیوالو همکارو او مرستندویه ادارو هڅې وستایلې.

محترم مولوي عبدالکبیر وویل، د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت به هڅه وکړي، چې د راستنو شویو کډوالو او کورنیو بېځایه شویو لپاره لازمې اسانتیاوې برابرې کړي او کیدونکې مرستې به په شفاف ډول اړمنو او مستحقو کسانو ته ورسیږي.

ښاغلي وزیر هېواد ته د مهاجرینو راستنول خپل لومړیتوب وباله، خو د نوموړي په وینا چې وخت

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطلاعاتو آمريت

۴۱ گنه سلواغه ۱۴۰۳ : شماره (۴۱) دلو ۱۴۰۳ :صفحه دوم :دويم مخ

اونیزه راستنیدنه
هفته نامه عودت



نزدیک به ۴۰ تن از افغانهای محبوس در کشور پاکستان، از حبس آزاد شدند

او فرصت باید په پام کې ونیول شي او مهاجرین له نړیوالو اصولو سره سم پخپله خوښه راستانه شي. په ناسته کې دواړو لوریو له یوبل سره پر لاهمغږۍ او ګډو همکاریو ټینګار وکړ.

### له قومي مخورو سره د مهاجرينو او بېرته راستنېدونکو چارو د وزير ليدنه

د مهاجرینو او بېرته راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر په جلاجلا ناستو کې د لوګر او ننګرهار ولایتونو له یو شمېر قومي مخورو او مشرانو سره وکتل.

راغلو قومي مخورو او مشرانو د ښاغلي وزیر د همکاریو په یادولو سره وویل، چې د ولسونو ستونزو حل او لیدنو ته یې د ځانګړي پام له امله د اسلامي امارت او خلکو ترمنځ ښې اړیکې رامنځته کړې دي.

د ننګرهار د کوټ ولسوالۍ مخورو په خپلو سیمو کې د اسلامي امارت له لوري د کلینیک، استنادي دیوال او کاریزونو د پاکولو د پروژو وړاندیزونه وکړل.

همدارنګه د لوګر له خوښۍ ولسوالۍ څخه راغلو قومي مخورو او علماي کرامو د اسلامي امارت له لوري د هغوی د یو شمېر ستونزو د حل له امله مننه وکړه او یادونه یې وکړه، چې حکومت دې د کاري فرصتونو په موخه لاډېرې پروژې پلې کړي.

محترم مولوي عبدالکبیر راغلو قومي مشرانو او علمای کرامو ته د ښه راغلاست پر مهال وویل، چې اسلامي امارت ولس ته خدمت خپل مسوولیت ګڼي او هڅې روانې دي چې په ټولو برخو کې د افغانانو ستونزو ته حل ولټوي.

محترم مولوي عبدالکبیر زیاته کړه چې له اړوندو ادارو سره په همغږۍ به یې وړاندیزونو ته رسېدنه وشي.

### روند انتقال بیش از صد خانواده بیجاشده به محلات اصلی شان از شهر کابل به ولایت کندز آغازشد



روند انتقال ۱۱۱ خانواده بیجاشده داخلی از شهر کابل به ولایت کندز، آغاز شد.

مولوی سردار شیرزاد رییس رسید گی به وضعیت بیجاشد گان داخلی گفت: این خانواده ها از جمله ۵ هزار خانواده بیجاشده داخلی که در شهر کابل زیست دارند میباشد که چندی قبل پروسه بایومتریک آن ختم شده بود از طرف وزارت امور مهاجرین با همکاری کمیته تخنیکی CCCM از شهر کابل به ولایت کندز انتقال میابند.

شیرزاد افزود: هر خانواده بیجاشده مبلغ ۲۰۰ دالر امریکایی را از جانب کمیته CCCM دریافت نموده اند و بعد از جابجایی آنان در محلات اصلی شان در کندز مبلغ یک هزار و ۳۱ دالر و کمک های بشری دیگر را نیز از جانب نهاد های همکار بدست خواهند آورد.

وی در ادامه یاد آورشد: یکی از آرزو های شهید خلیل الرحمن حقانی وزیر پیشین این وزارت انتقال خانواده های بیجاشده داخلی کشور به محلات اصلی شان بود.

رییس رسید گی به وضعیت بیجاشد گان داخلی بیان داشت: از اینکه امنیت سرتاسری در کشور فراهم شده آرزو داریم که روزی فرا رسد که همه خانواد های بیجاشده داخلی را به محلات اصلی شان انتقال دهیم تا زنده گی مرفه را در محلات اصلی شان سپری کنند.

### تېره میاشت تر ۱۶ زره زیاتو کورنیو سره مرسته شوې



د هېواد په ۲۴ ولایتونو کې تېره مرغومي میاشت کې تر ۱۶ زرو زیاتو کورنیو سره د مهاجرینو چارو وزارت د دویمو واحدونو له لوري مرستې شوې.

د مهاجرینو چارو وزارت د دویمو واحدونو د معلوماتو له مخې په فاریاب، غزني، سرپل، میدان وردګ، ننګرهار، پکتیکا، لغمان، کندوز، جوزجان، بادغیس، فراه، سمنګان، بغلان، دایکندي، بلخ، کابل، غور، کندهار، خوست، زابل، لوګر او هلمند ولایتونو کې له ۱۶ زره ۶۸۱ کورنیو سره د ځینو همکارو بنسټونو په همکارۍ مرسته شوې ده.

سرچینو زیاته کړې چې ووېشل شوو مرستو کې د خوراکي، نغدي پیسو، روغتیایي، پخلنځي، کاري وسایلو او ژمني جامو کڅوړې، سولرونه، د سوخت توکي، بخارۍ، خیمې، ترپالونه او کمپلې وې، چې د مرستندویو بنسټونو د استازو په شتون کې وېشل شوي دي.

### نزدیک به ۴۰ تن از افغانهای محبوس در کشور پاکستان، از حبس آزاد شدند




۳۸ تن از افغانهای محبوس از کشور پاکستان، از قید آزاد و به کشور برگشت نمودند.

به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار افراد یاد شده به دلیل نداشتن اسناد قانونی از محلات مختلف پاکستان بازداشت شده بودند و مدت ٤ روز را در حاجی کمپ دربند بوده که پس از دریافت مساعدت های بشری به محلات اصلی شان انتقال شدند.

### بادغیس کې د تلپاتي بیامېشتېدني کمېټې ناسته وشوه

په بادغیس ولایت کې د دغه ولایت د والي او د تلپاتې بیامېشتېدني کمېټې د غړو په شتون کې د راستنو شویو او بېځایه شویو د تلپاتې بیامېشتېدني کمېټې ناسته وشوه. دغه ناسته د مهاجرینو او د دوی بنسټي او لومړنیو اړتیاوو ته د رسېدني لپاره د اړوندو ادارو او موسسو د چارو د پیاوړتیا، همغږۍ او انسجام په موخه وشوه.

د بادغیس ولایت د والي د مرستیال مولوي غلام محمد محمدي له موسسو وغوښتل، چې خپلې چارې د اسلامي امارت د قانون او اصولو برابر ترسره کړي.

د مهاجرینو چارو آمر مولوي نیک محمد خیبب د راستنېدني او په سیستم کې د راستنېدونکو د نوملیکنې په اړه معلومات وړاندې کړل. ستونزې او اړتیاوې یې وویلې او دغه راز له همکارو بنسټونو څخه د مرستې راټولولو غوښتنه یې څرګنده کړه.

### نشست کمیته توزیع زمین برای مهاجرین در ولایت ارزگان برگزار شد

نشست کمیته توزیع زمین برای مهاجرین در ولایت ارزگان بر ریاست مولوی عنایت الله شجاع والی آن ولایت و با حضور نماینده های ادارات ذیربط برگزار گردید.

در این نشست در مورد پیشرفت کار در شهرک مهاجرین، توزیع زمین و پلان های آینده آن بین شاملین نشست بحث و تبادل نظر صورت گرفته و تصامیم اتخاذ شد.